دو فصلنامهٔ
علمي-تحقیقی **عینک** علمي-څېړنيزه شپږ میاشتنی مجله
د امتیاز خاوند: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه/مؤسسهٔ تحصیلات عالی لوګر
تاریخ جواز مجله: ۱۴۴۴/۱۱/۱۴

# په پرانګانو کې د لیوني سپي ناروغۍ څېړنه

**پوهنیار صبغت الله دانش**

پاراکلینیک څانګه، وترنري علومو پوهنځی، شیخ زاید پوهنتون، خوست، افغانستان.

برېښنالیک: Sabghatullah.danish@yahoo.com

**لنډیز**

**د مسئلې بیان:** د لیوني سپي ناروغي یوه ویروسي ناروغۍ ده، چې په ټوله نړۍ کې انسانان او څاروي پرې اخته کېږي، د دې ناروغۍ عامل انسانانو ته له اخته وحشي او اهلي څارویو څخه مستقیماً د چېچلو یا داړلو له لارې انتقالیږي.

**موخې:** څرنګه چې د لیوني سپي ناروغۍ په پرانګانو کې رامنځ ته کېږي؛ نو د پرانګانو په ژوند باندې د دغې ناروغۍ له امله د منفي اثراتو، د څارویو او انسانانو ترمنځ د انتقال لارو او د یادې ناروغۍ کنترول او مخنیوي پیژندل زمونږ له عمده موخو څخه دي.

**څېړندود:** د دغې مقالې په لیکلو کې له کتابتوني کړنلارې څخه کار اخیستل شوی دی.

**موندنې:** د لیوني سپي ناروغۍ عامل یو RNA ویروس دی، چې ټول ګرمه وینه لرونکي څاروي ورسره حساس دي. ذکر شوې ناروغۍ په پرانګانو کې د لاړو بهیدنه، غیر نارمل سلوک، حمله ور حالت او عصبي علایم رامنځته کوي.

**پایلیزه:** د لیوني سپي ناروغي یوه مرګوني ناروغي ده، چې ویروس یې د اهلي غوښه خوړونکو څارویو څخه علاوه په ډېرو وحشي غوښه خوړونکو څارویو کې هم لیدل کیږي. څرنګه چې نوموړې ناروغي د درملنې وړ نه ده، نو له همدې امله، باید د ناروغۍ په مخنیوي باندې تمرکز وشي.

**کلیدي کلیمې**: څاروي، پړانګان، درملنه، لیوني سپي ناروغي، مخنیوی.

**استناد**: دانش، صبغت الله. (۱۴۰۳). په پړانګانو کې د لیوني سپي ناروغي. **عینک** *علمي*-څېړنیزه مجله، لومړی کال، دویمه ګڼه: ۷۹-۹۲.

خپرندویه اداره: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه
© د لیکوال یا لیکوالانو حق.

**سريزه**

په ژوبڼونو کې د وحشي ځارويو خصوصاً پړانګانو ساتنه په ټوله نړۍ کې د زياتيدو په حال کې ده. د دولتونو لپاره ژوبڼونو ته د سيلانيانو راتګ د عايداتي منابعو له ډلې څخه شميرل کېږي او د وحشي ځارويو په ساتنه باندې په سلګونه کسان مصروف دي. پړانګان او نور ځاروي په زياتو خطرناکو ناروغيو باندې اخته کيدلی شي، چې د هغوی د مړينې لامل کېږي. بد بختانه د ځارويو ځينې ناروغۍ په مستقيم او غير مستقيم ډول سره د پړانګانو په ژوند باندې اغيز لري، چې د هغوی له ډلې څخه يو هم د ليوني سپي ناروغي ده. لکه څرنګه چې په افغانستان کې پړانګان شته او زياتره يې په وحشي ډول ژوند کوي ولې ځينې يې په ژوبڼونو کې د خلکو د سياحت او د نوعو د انقراض د مخنيوي لپاره ساتل کېږي. د ليوني سپي ناروغۍ باندې نوموړي ځاروي اخته کېږي او زياتره د ژوبڼ ساتونکي، وترنر ډاکتران او په استثنايي ډول سياحين هم د نوموړي ځاروي د حملې په نتيجه کې په نوموړې ناروغۍ اخته کيداې شي. نو ومې غوښتل چې پدې اړه يوه څېړنه ترسره کړو تر څو د هغو اشخاصو لپاره چې د نوموړو ځارويو سره سروکار لري د عامه پوهاوي سطحه لوړه شي.

د ليوني سپي ناروغي د لويو اقتصادي زيانونو په رامنځته کولو سره يوه ويروسي ناروغۍ ده او د افغانستان په شمول د نړۍ په زياتره هيوادونو کې په انسانانو، ځارويو ، او مرغانو کې د مختلفو ضايعاتو سبب کېږي. ياده ناروغي په ټوله نړۍ کې د وحشي ځارويو د سترو ناروغيو له جملې څخه ده، چې د ويروس پواسطه رامنځ ته کېږي.

وحشي پړانګان د پيشو کورنۍ يوه لويه نوعه ده، چې په تاريخي لحاظ پړانګان زيات په اسيا کې اوسيږي (Mustafa et al, 2015). په داسې حال کې چې وحشي پړانګان د انقراض په حالت کې دي، چې تقريبا تر نته د ۳۲۰۰-۳۵۰۰ پورې ژوند کوي (Diepstraten et al, 2022). اګر چې د انسانانو په واسطه د طبيعي منظرو تغيرات لکه ښاري کيدنه، د اوسيدنې ځای خرابوالی، ښکار کول د وحشي ځارويو حفاظت متأثره کوونکي اساسي فکتورونه دي. عفوني ناروغۍ هم ممکن د ځارويو په نوعو او نفوسو په ملي او نړيواله سطحه د تهديد لومړني لامل په حيث عمل وکړي (Lewis et al, 2017).

باکترياوې، ويروسونه، او پرازيتونه په وحشي ځارويو کې د اهميت وړ خطر رامنځ ته کوي (Barbon et al, 2019 ؛Cabello et al, 2013). په ځينو حالاتو کې يې د مړينې باعث کېږي. علاوه پردې د وحشي ځارويو عفوني ناروغۍ د زونوټيک پتوجنونو په واسطه رامنځته کېږي، چې ممکن د انساني صحت لپاره هم خطر رامنځ ته کړي (Daszak et al, 2000).

د پيشو کورنۍ پورې اړوند ځاروي د هغو سره ورته عفونتونو سره حساس دي، کوم چې د اهلي پيشوګانو په واسطه لېږدول کيږي. دوی د نورو ځارويو په واسطه له انتقاليدونکو ناروغيو سره هم حساس دي، د مثال په ډول ويروسي ناروغيو (د سپيو ډيستمپر، الوتونکو طاعون او داسې نور)

باکتریایي ناروغیو (تولریمیا، توبرکلوزیس او داسې نور) پروتوزوایي ناروغیو (توکسوپلازموزیس او داسې نور) (Thiry et al, 2009).

Rabies یوه لاتیني کلیمه ده، چې د لیونتوب معنا ورکوي او د دې لپاره یوناني نوم lyssa دی، چې هغه هم د لیونتوب معنا ورکوي. د ویروس غشایې ګلایکوپروتین د ناروغۍ په رامنځ ته کولو کې مهم رول لري، دا یې اساسي محافظتي انتي جن دی، چې د انتي باډي خنثی کولو لپاره مهم دی (Mtui-Malamsha, et al., 2019).

د لیوني سپي ناروغۍ ویروس انساناتو ته له اخته شویو وحشي او اهلي ځارویو څخه مستقیماً د چیچلو یا داړلو له لارې انتقالیږي. په هر کال کې تقریباً تر ۵۵۰۰۰ خلک د لیوني سپي ناروغۍ له امله مړه کیږي، چې زیاتره یې په افریقا (۲۴۰۰۰)، اسیا (۳۱۰۰۰) کې راپور ورکړل شوی دی. د عفونت اساسي منبع د اهلي سپیانو له داړلو یا چیچلو څخه ده. په ۲۰۰۳ کال کې وحشي ځاروي د اهلي ځارویو په نسبت په جنوبي افریقا کې د منتن کیدو اساس ګڼل کیدل. د نړۍ په زیاتو برخو کې د لیوني سپي ناروغۍ ویروس سره د انسانانو منتن کیدو لپاره مخزن د اهلي سپیو او وحشي غوښه خوړونکو نفوس ترکیب کیدل مشاهده شوي. د وحشي ځارویو د زونوتیک پتوجنونو ډیر زیات مثالونه شته، چې له ځینو څخه یې په پورته ډول یادونه وشوه. د دغو پتوجنونو او زیاتو نورو لپاره، وحشي ځاروي د انسانانو لپاره د انفکشن منبع په حیث پکار وړل کیږي. همدارنګه پاتوجینونه چې د وحشي ځارویو په واسطه انتقالیږي کیدای شي د انسانانو صحت، عامه صحت او د غذا حفاظتي پروګرامونو ته مهم وي. د عامي روغتیا اغیزمن پروګرامونه په وحشي ځارویو کې، همدارنګه په انسانانو او اهلي ځارویو کې د زونوتیک پتوجنونو د اپیډیمولوژي کاملې پوهې ته ضرورت لري (OIE, 2010).

د لیوني سپي ناروغۍ ویروس په اخته ځارویو کې د علایمو ښودلو څخه علاوه په لاړو، د شوکې نخاع په مایعاتو، اوښکو او اعصابو کې موجود وي. د عفونت د انتقال لاره اکثراً د داړلو طریقه ده. په انسانانو کې د منتن کیدو څخه وروسته ویروس اطرافي عصبي سیستم ته انتقالیږي او د محیطي اعصابو په وسیله مرکزي عصبي سیستم ته انتقالیږي (Fisher et al, 2018).

**موخې**

دا چې د نړۍ په زیاتره هیوادونو کې د لیوني سپي ناروغۍ د افغانستان په شمول په انسانانو، او ځارویو کې د مختلفو ضایعاتو سبب کیږي، نو زموږ عمده موخې عبارت دي له:

۱- د پړانګانو په ژوند باندې د دغې ناروغۍ منفي اغیزو پیژندل.

۲- د ځارویو او انسانانو تر منځ د ناروغۍ د انتقال لارو پیژندل.

۳- د لیوني سپي ناروغۍ کنترول او مخنیوی واضح کول.

**پوښتنې**

۱ـ ایا په پړانګانو کې د ناروغۍ عامل او کلینیکي علایم د نورو ځارویو سره ورته دي؟

۲ـ نوموړې ناروغي په پړانګانو کې په کوم ډول خپریږي؟
۳- په پړانګانو کې د لیوني سپي ناروغۍ مخنیوی او کنټرول څرنګه کیږي؟

**مواد اوڅېړندود**

په دې مقاله کې، چې د پړانګانو لیوني سپي ناروغۍ په اړه معلومات راټول شوي دي، یوه کتابخانه یې څېړنه ده. د نوموړې مقالې د لیکلو لپاره نړیوالو معتبرو سایټونو او ژورنالو ته مراجعه شوي ده او په یادو سایټونو او ژورنالو کې د خپرو شویو مقالو څخه د موضوع اړوند معلومات را ټول شوي دي. دا چې څېړنه په پښتو ژبه ده، نو د پښتو ټول ژبني قواعد او اصول مو پکې مراعات کړي دي.

جدول ۱. په نوموړې مقاله کې استفاده شوي سایټونه او ژورنالونه، او له څېړنې سره یې تړاو

| ګڼه | اړوند سایټونه او ژورنالونه | د مقالې لیکوالانو تخلص او کال | له څېړنې سره یې د تړاو |
|---|---|---|---|
| ۱ | Journal of avian medicine and surgery | (Barbon et al, 2019) | د پتوجنونو پواسطه په وحشي ځارویو کې مړینه |
| ۲ | Science | (Daszak et al, 2000) | د انساني صحت لپاره د وحشي ځارویو عفوني ناروغیو خطر |
| ۳ | Veterinary microbiology | (Cabello et al, 2013) | په وحشي ځارویو کې د پتوجنونو پواسطه د اهمیت وړ خطرات |
| ۴ | Land | (Diepstraten et al, 2022) | د پړانګانو انقراص |
| ۵ | Nature Reviews Microbiology | (Fisher et al, 2018) | د اخته ځارویو په بدن کې د ویروس موجودیت، اپیډیمولوژي، تشخیص |
| ٦ | Cat News | (Kitchener et al, 2017) | په نړۍ کې د پړانګانو تاریخچه |
| ۷ | Advances in therapy | (Leung et al, 2007) | د ځارویو حساسیت درجه |
| ۸ | PLOS One | (Lewis et al, 2017) | د وحشي ځارویو حفاظت متأثره کوونکي اساسي فکتورونه |
| ۹ | Elsevier Health Sciences | (Miller & Fowler, 2014) | د لیوني سپي ناروغۍ لېږد او کلینیکي نښې |
| ۱۰ | International Journal of Environmental Research and Public Health | (Mtui-Malamsha, et al., 2019) | د لیوني سپي ناروغۍ د عامل مورفولوژي او مخنیوی |
| ۱۱ | APCRI Journal | (Mukhopadhyay, 2020) | په پړانګانو کې د لیوني سپي ناروغۍ پېښې |
| ۱۲ | J. Dent. Med. Sci | (Mustafa et al, 2015) | د لیوني سپي ناروغۍ پرمختګ او درملنه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | The Indian Medical Gazette | (Pandit, 1950) | په پړانګانو کې د لیوني سپي ناروغۍ پېښې |
| ۱۴ | Veterinary Quarterly | (Singh et al, 2017) | د ناروغۍ جغرافیوي خپریدنه |
| ۱۵ | Comparative immunology, microbiology and infectious diseases | (Sugiyama & Ito, 2007) | د عفونت منبع |
| ۱۶ | Journal of Feline Medicine & Surgery | (Thiry et al, 2009) | مختلفو ناروغیو سره د پیشو کورنۍ پورې مربوط څارویو حساسیت |
| ۱۷ | Onderstepoort Journal of Veterinary Research | (Thomson & Meredith, 1993) | په مختلفو وحشي څارویو کې د لیوني سپي ناروغۍ راپور |
| ۱۸ | Gov | (GNT, 2017) | په څارویو کې د لیوني سپي ناروغۍ کلینیکي نښې او کنترول |
| ۱۹ | Fao | (OIE, 2010) | په انساناتو کې د لیوني سپي ناروغۍ پېښې |
| ۲۰ | Reliefweb | (OCHA, 1997) | په افغانستان کې پړانګان تاریخچه |
| ۲۱ | Zooreach | (Rao, 2011) | حساس وحشي څاروي |
| ۲۲ | Persee | (Theodorides, 1986) | د څارویو تاریخچه |
| ۲۳ | Moef | (Arora, 1991) | په پړانګانو کې د لیوني سپي ناروغۍ کلینیکي نښې |
| ۲۴ | Subhekabul | عبدالرازق اختیاربیګ | په لغمان کې یو د پړانګ نیول |
| ۲۵ | Tolonews | نعمت الله احمدي | په بدخشان کې د یو پړانګ وژل |
| ۲۶ | Mail | ډاکټر حامد نوروز | د لیوني سپي ناروغۍ مخنیوی |
| ۲۷ | Wasiweb | ډاکټر ظهیر | د لیوني سپي ناروغۍ واکسین جوړل |

## په پړانګانو کې د لیوني سپي ناروغي

### تاریخچه

په څارویو کې د دې ویروس په اړه د میلاد څخه څلور پیړۍ مخکې ارسطو لیکلي وه، چې که چېرې په دغه ویروس اخته سپي ټول څاروي وداړي نو ټول به لیوني شي. هندی سوسروتا سامهیتا د میلاد څخه وروسته په لومړۍ پیړۍ کې توضیح کړي ده، چې په دغه ناروغۍ کې د سپیو، ګیدړانو او پړانګانو لکۍ، ژامه او اوږه سستیږي (Theodorides, 1986).

په انسانانو او څارویو کې له نن څخه کابو ۴۵۰۰ کاله وړاندې په اروپا او افریکا کې خپره وه. په ۱۸۵۸ کال کې لوئی پاسټور د دې وېرونکې ناروغۍ واکسین جوړ کړ (واسع ویب، 2019).

د وحشي غوښه خوړونکو له ډلې څخه په دوو بنګالي پړانګانو کې د یادې ناروغۍ لومړی کیس په ۱۹۴۳ م کال کې په ناګون او دویم کیس په ۱۹۵۰ م کال کې په اسام ایالتونو کې ثبت شوي دي. پړانګان په انسانانو، غواګانو او سپیانو حمله کوي (Pandit, 1950).

پړانګان په ختیځې ترکیې، شمالي ایران، بین النهرین، په قفقاز کې د کسپین سمندرګي شاوخوا، له منځنی اسیا څخه تر شمالي افغانستان او د چین په لویدیځ کې د سینکیانګ په سیمه کې اوسیږي (Kitchener et al, 2017).

د افغانستان په بدخشان ولایت کې د زیباک ولسوالی اوسیدونکو لخوا په ۱۳۹۶ هـ ش کال کې د ټوپک په وسیله یو پړانګ وژل شوی وه (طلوع نیوز، 1396). د افغانستان، لغمان ولایت اوسیدونکو لخوا په ۱۴۰۰ هـ ش کال کې یو پړانګ نیول شوی وه او ۲۰۰ زره افغانیو په بدل کې د اوسني حکومت لخوا د کابل ولایت ژوبڼ ته انتقال شو (روزنامه صبح کابل، 1400). یوه جوړه پړانګان په ۱۹۹۷ م کال کې د افغانستان په لغمان ولایت کې نیول شوي وه (OCHA, 1997).

**عامل**

د لیوني سپي ناروغۍ عامل یو RNA ویروس دی، چې د lyssavirus جنس او Rhabdoviridae کورنۍ پورې اړه لري. دغه جنس یو کلاسیک ربیس ویروس (RABV, genotype-1) او شپږ ربیس ته ورته ویروسونه لري. هر یو یې ددې وړتیا لري چې په څارویو او انسانانو کې ربیس ته ورته علایم رامنځته کړي. دا ویروس د ځینو محیطي فکتورونو لکه د لمر مستقیمو وړانګو، د ۵ دقیقو لپاره د ۶۰ درجو سانتي ګرید حرارت سره مخامخ کیدو او التراوایلیت شعاعو سره ډیر حساس دی. همدارنګه د شحمو حل کوونکي محلولونه (۷۰ فیصده الکول)، تراپسین، سودیم ډی اوکسی کولیت او عامو پاک کوونکو موادو سره حساس دی (Mtui-Malamsha, et al., 2019).

**اپیډیمولوژي**

**لیږد او محیطي خطري فکتورونه**

د لیوني سپي ناروغۍ ویروس د انسان په شمول ګرمه وینه لرونکي څاروي اخته کولی شي. ځینو الوتونکو کې هم معلوم شوي چې په یاده ناروغۍ باندې د اخته څارویو خوړولو څخه وروسته یې د نوموړې ویروس انتی باډی تولید کړې. اخته اسمان څکالي، ګیدړې، بیزوګان، د امریکا صحرایي لیوان، غواګانې، لیوان، سپي او پیشوګانې په نظر کې نیول شوي، چې د انسانانو لپاره د ناروغۍ ستر فکتورنه دي. په اخته څارویو کې ویروس د کلینیکې نښو ښودلو څخه پرته په لاړو، شوکي نخاع مایعاتو، اوښکو او اعصابو کې موجود وي. د عفونت د لیږد لاره د داړلو په واسطه ترسره کیږي. له انسان څخه انسان ته یې لیږد ډیر کم دی. په انسانانو کې د منتن کیدو څخه وروسته ویروس اطرافي عصبي سیستم ته او د محیطی اعصابو په وسیله مرکزي عصبي سیستم ته لیږدول کیږي (Fisher et al, 2018).

د نوموړې ناروغۍ لامل په بند محیط کې د تنفس کولو له طریقه هم لېږدول کیږي. یاده ناروغۍ د ۲-۷ ورځو په موده کې مړینه رامنځته کوي (Miller & Fowler, 2014). د لیوني سپي ناروغۍ تصادفي او منظم کیسونه د Canidae، Felidae، Mustelidae او Viverridae فامیلی غوښه خوړونکو په ۳۰ ډولونو کې راپور ورکړل شوی دی (Thomson & Meredith, 1993).

د نوي دهلي ملي حیواني پارک کې د ۱۹۶۷-۱۹۹۰ مودې په جریان کې د لیوني سپي ناروغۍ پیښې په دوه سپینو پړانګانو او یوه نصواري خنځیر کې موندل شوي وې پړانګانو د لیوني سپي ناروغۍ غلی یا چوپ شکله مشابه نښې ښودلي وې (Mukhopadhyay, 2020).

**د ناروغۍ جغرافیوي خپریدنه**

د لیوني سپي ناروغۍ خپریدنه په ټوله نړۍ کې توپیر لري. د سپیو کورنۍ پورې مربوط لیوني سپي ناروغۍ په لاتین امریکا، افریقا، منځنۍ ختیځ او اسیا کې په زیاته اندازه لیدل کیږي. په شمالي امریکا او اروپا کې د سپیو کورنۍ پورې اړوند د لیوني سپي ناروغي په مکمل ډول له منځه وړل شوي ده، د لیوني سپي ناروغۍ ویروس وحشي څاروي هم په ناروغۍ اخته کوي. ځیني هیوادونه لکه انګلستان، ناروې، ایسلند، مالیزیا، سویډن، نیوزلند، ایرلند، سنګاپور، جاپان، استرلیا، اقیانوس ارام، او ځینې اندونیزیایی جزیرې د لیوني سپي ناروغۍ څخه خالی ساحو په حیث د څو کلنو لپاره ثبت او انساني پیښې تقریبا ۹۸ سلنه په لاتین امریکا، اسیا او افریقا هیوادونو کې ثبت شوې دي(Singh et al, 2017).

**د میزبان حساسیت درجه**

ټول ګرمه وینه لرونکي څاروي د لیوني سپي ناروغۍ له عفونت سره حساس دي، مګر د نوعو محدود تعداد د مخزن په حیث عمل کوي. غواګانې د عصبانیت شکل سره خطرناکه کیدلای شي او په انسانانو او نورو نوعو باندې حمله کوي. یوسومه په مکرر ډول سره د خفګان او هیجاني نښې ښیې. لیوني سپي ناروغۍ باندې اخته ګیدړې اکثراً په کورونو کې را ټولیږي او په سپیانو او انسانانو باندې حمله کوي (Leung et al, 2007).

نوموړې ناروغۍ په پړانګانو، خوګانو، زمریانو، شغالانو، آسانو او نورو کې واقع کېږي. د ژوبڼونو په څارویو کې ذکر شوې ناروغي اساساً د کوڅه ډبه څارویو د داړلو په نتیجه کې خپریږي، چې د موانعو څخه په پټه داخلیږي (Rao, 2011).

**د عفونت منبع**

د لیوني سپي ناروغۍ عفونت په منابعو کې د Canidae کورنۍ (لیوان، سپي، ګیدړې او شغالان)، Viverridae، Mustelidae، او Procyonidae کورنۍ او Chiroptera (اسمان څکالي) اړدر غړي شامل دي. په افریقا کې د لیوني سپي ناروغۍ ویروس لومړنۍ مراقبتي دوران په اهلی سپیانو کې واقع کیدل، په داسې حال کې چې د نورو غوښه خوړونکو څارویو سره د غیر مراقبتي نفوس په حیث عمل کوو(Sugiyama & Ito, 2007).

**د ناروغۍ پرمختګ**

د لیوني سپي ناروغۍ ویروسونه بدن ته د داړلو له طریقه، زخمي پوستکي یا مخاطي غشا سره د تماس له طریقه داخلیږي. ویروس بدن ته د سالم پوستکي څخه داخلیدلی نه شي. ویروس موضعي حسي او حرکي نیورونونه اخته کوي او په موضعي ډول اسکلیتي عضلاتو کې تکثر کوي یا مستقیماً د عصب نهایاتو خصوصاً د اسیتایل کولین اخذو سره نښلي. وروسته مرکز ته په اکسوني انتقال کې مرکزي عصبي سیستم ته مهاجرت کوي (۱، شکل). په مرکزي عصبي سیستم کې ویروس په وسیع ډول تکثر کوي او کلینیکي نښې ظاهریږي. التهاب اکثراً د لیوني سپي ناروغۍ د علایمو په عصباني مرحله کې په منځني مغز او میډولا او د لیوني سپي ناروغۍ د علایمو په فلجي مرحله کې په نخاع شوکې کې وي. ویروسونه له مغز څخه زیاتو نورو انساجو او غړو ته خپریږي، وروسته بیا هم د لاړو په غدواتو کې تکثر کوي او په لاړو کې ترشح کیږي (Mustafa et al, 2015).




۱، شکل: د ناروغۍ پاتوجینیزیس

**کلینیکي نښې**

د لیوني سپي ناروغي د پیشو کورنۍ پورې مربوط ځارویو کې د لاړو بهیدنه، غیرنارمل سلوک، متجاوز یا حمله ور حالت، عصبي علایم (عضلاتي فلج، د ناروغۍ تصادفي حمله) رامنځته کوي (Miller & Fowler, 2014).

پړانګان د ذکر شوې ناروغۍ غلي یا چوپ شکل ته مشابه نښې ښیې، یو اندازه د لاړو بهیدل او زړه ضربان زیاتوالی موجود وي. ځاروی غلي یا چوپ وي او د حرارت درجه نه لوړیږي. هر کله چې ناروغي پرمختګ وکړي، ځاروی د خلفي اطرافو د عضلاتو د حرکاتو د لاسه ورکولو سره ډنګریږي او خوبوړی پاتې کیږي؛ تر څو مړ شي، هیڅ واضحه په سترګو لیدونکي تخریبات په نیکروپسي کې نه لیدل کیږي (Arora, 1991).

د لیوني سپي ناروغۍ کلینیکي نښې په سپیو، نولیو او پیشوګانو کې ممکن توپیر ولري چې معمولا ډار، تهاجمي حالت، له خولې څخه د لاړو بهیدل، بلع کولو کې مشکل، ګیچ کیدل او تشنج په کې

شامل دي. د ذکر شوي ناروغۍ له امله د اخته وحشي څارويو په رفتار کې اختلال رامنځ ته کېږي [Https://www.google.com/url].

څاروي د نارمل حالت په نسبت ممکن مختلف عملونه ترسره کړي وحشي. څاروي زیاتره له انسانانو څخه ډار له لاسه ورکوي او ممکن شریر شي او له دلیل پرته حمله کوي. څاروي ممکن خوړنده ژامه ولري او په خوله کې یې ځګونه وي. په لیوني سپي ناروغۍ باندې اخته څارويو کې ممکن کمزوري او فلج هم ولیدل شي (GNT, 2017).

**په انسانانو کې کلینیکي نښې**

په انسانانو کې د لیوني سپي ناروغۍ کلینیکې نښې د ۳۰-۶۰ ورځو پورې ظاهرېږي. نښې یې په ساحه کې د تلقیح په شمول درد او خارښت، همدارنګه تبه، زړه بد والی، سردردي، ستونې درد او اشتها د لاسه ورکول ممکن واقع شي. زیاته لاړه بهیدنه، عضلاتو شخوالی، تشنج، د رڼا او لوړ اواز په وړاندې زیات حساسیت هم لیدل کېږي (Mustafa et al, 2015).

**تشخیص**

د دې ناروغۍ کلینیکې تشخیص مشکل دی. څرنګه چې په لومړۍ مرحله کې د نورو ناروغیو سره د نوموړې ناروغۍ په تشخیص کې اشتباه واقع کېږي، نو توپیري تشخیص یې باید د هر هغه عفونت (arboviruses، herpesviruses، enteroviruses، tetanus، listeriosis او Poisoning) سره چې د مغز د التهاب باعث ګرځي، ترسره شي. تکراري استعمالیدونکي FRT (Fluorescent test) یا FAT (Fluorescent antibody test) تشخیصي میتودونه دي. د انساجو مایکروسکوپیک معاینات د ویروس مشخص انتیجن پیژندلو کې کومک کوي. RT PCR د نوموړې ناروغۍ لپاره ډېر حساس او مشخص ټسټ دی (Fisher et al, 2018).

**درملنه**

د لیوني سپي ناروغۍ لپاره بهترینه درملنه د هغوی مخنیوی ده. د ویروسي خطر سره د مخامخ کیدلو څخه وروسته درملنه د عفونت مخنیوي په خاطر که چېرې په طول د لومړیو ۱۰ ورځو کې ترسره شي اغیزمنه واقع کیدای شي (Mustafa et al, 2015).

که چېرې یو څاروی د لیوني سپي لخوا وداړل شي زخم په اوبو او صابون ومنځل شي او دوه دوزه واکسین ورته وشي [Https://www.google.com/url].

د پیوډین ایوډین او الکولو استعمال د ناروغۍ د انکشاف خطر کمولو کې اغیزمن دي. دا ضروري ده چې انسانانو ته تر څو د یادې ناروغۍ انساني ایمونوګلوبولین یو دوز او همدارنګه د ۱۴ ورځو په موده کې څلور دوزه د لیوني سپي ناروغۍ واکسین وشي او که چېرې دوه دوزه یې مخکې ورته شوي وي؛ نو دوه دوزه بیا وروسته ورته کېږي (Mustafa et al, 2015).

## مخنیوی او کنټرول

د لیوني سپي ناروغۍ د تشخیص د لابراتوار کارکوونکي، وترنران، ښکاریان، مالداران، د چاپېریال ساتنې کارکوونکي، د مسلخونو کارکوونکي، کوم کسان چې په امنيتي ځواکونو کې د سپيو روزنې دندې پرغاړه لري، هغه کسان چې د ځېړنو لپاره غارونو ته ورځي او په ټولیزه توګه هغه کسان چې د دندو له امله ځارویو سره په اړیکه کې دي او ددې شونتیا شته چې ځاروي يې وداړي، باید د یادې ناروغي پر وړاندې واکسین شي (کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، ۱۳۹۹).

که چېرې په کوم ځاروي باندې د لیوني سپي ناروغۍ شک وشي؛ نو ځاروي ته باید هیڅ څوک ورنږدې نه شي. که چېرې یو ځاروی ذکر شوي ناروغي ولري نو باید ووژل شي. د دستکشو څخه پرته ځاروی لمس نه شي او هغه له نورو ځارویو او انسانانو څخه لرې وساتل شي. که چېرې یو ځاروی د لیوني سپي په ناروغۍ باندې اخته وي د هغوی غوښه انسانان ونخوري او همدارنګه سپیانو ته هم ور نه کړل شي (GNT, 2017).

کورني ځاروي د نوموړې ناروغۍ په وړاندې باید واکسین شي. د کورنیو سپیانو د تماس مخنیوی باید له نورو ځارویو څخه وشي. د خپل ځاروي غذا له کور څخه بهر باید کینښودل شي چې دغه عمل د وحشي او کوڅه ډبو ځارویو د جذب باعث کیږي. وحشي ځاروي د کورني ځارویو په توګه باید ونه ساتل شي. که چېرې په هغه منطقو کې چې اسمان ځکالۍ زیات ولري کورونه باید موانع ولري لکه جالۍ او نور تر څو د اسمان ځکالي داخلیدو څخه مخنیوی وشي [Https://www.google.com/url].

د خطر سره د مخامخ کیدلو څخه مخکې واکسیناسیون په انسانانو کې ترسره کیږي او غیر انساني ډولونه، د اهلي ځارویو سره یوځای ډیره مهمه ده، چې واکسین شي. د کنټرول اقدامات لکه د سپیو، نولیو او پیشوګانو واکسیناسیون باید عملي شي، د کورني زینتي ځارویو ساتنه د ښه نظارت لاندې ترسره شي، د وحشي او کوڅه ډبه ځاروي اداره شي، کله چې ناروغه وحشي او کوڅه ډبه ځاروي ولیدل شي وترنر ډاکټر سره تماس ونیول شي. د خطر سره مخامخ شوې ساحه د خطر مخامخ کیدو څخه وروسته د صابون او اوبو په واسطه د ۱۰-۱۵ دقیقو لپاره ومنځل شي (Mtui-Malamsha, et al., 2019).

د نوموړي ناروغۍ ویروسونه په محیط کې پایدار نه دي او د عامو ضدعفوني کوونکو موادو په واسطه غیر فعاله کیږي (Miller & Fowler, 2014).

## پایلیزه

په پایله کې پدې پوه شو چې د لیوني سپي ناروغي یوه مرګوني ناروغي ده، د RNA ویروس په واسطه رامنځ ته کیږي. بدبختانه د یادي ناروغۍ ویروس د اهلي غوښه خوړونکو ځارویو څخه پرته په ډېرو وحشي غوښه خوړونکو ځارویو کې هم لیدل کیږي. هر کال په ټوله نړۍ کې تقریبا ۵۵۰۰۰ کسان د یادې ناروغۍ له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي. یاده ناروغي د ژوند تهدید کوونکو ناروغیو له جملې

ښخه ده، چې د يادې ناروغۍ ميکروب له اخته ښارويو ښخه انسانانو او نورو ښارويو ته د داړلو له لارې لېږدول کيږي. د ذکر شوي ناروغۍ ويروس د خطر سره د مخامخ کيدو ښخه مخکې او وروسته د مخنيوی لپاره اوسني ميتودونه په محفوظ او سريع ډول شته. څرنګه چې نوموړې ناروغي د درملنې وړ نه ده؛ نو له همدې امله، بايد د ناروغۍ په مخنيوي باندې تمرکز وشي. د ليوني سپي ناروغۍ اداره کول د هغه چا لپاره ډېره مهمه ده، چې د وحشي ښارويو په ساحه او ژوبڼونو کې کار کوي. د ليوني سپي ناروغۍ په واسطه مړه شوي پړانګان بايد په تيزی سره له منځه يوړل شي. پړانګان او نور ښاروي د دغې ناروغۍ په وړاندې بايد واکسين شي.

**وړانديزونه**

۱ – د ژوبڼ او ساحې ډاکتران همدارنګه کار کوونکي چې له وحشي ښارويو سره مخامخ کيږي بايد د دغې ويروسي ناروغۍ په وړاندې واکسين وکړي.

۲ – د ژوبڼ مسؤلين بايد حفظ الصحوي شرايط په نظر کې ونيسي.

۳ – ټول وحشي او اهلي ښاروي بايد واکسين شي.

۴ – کوم پړانګان چې د ليوني سپي په ناروغۍ باندې اخته کيږي بايد له منځه يوړل شي.

**منابع**


روزنامه صبح کابل. (١٤٠٠). خطر انقراض گونه های کم یاب حیوانی؛ ماجرای پلنگی که در لغمان گرفتار و به باغ وحش کابل آورده شد. https://subhekabul.com/%D8%A7% D9%.

طلوع نیوز. (1396). باشنده گان بدخشان یک پلنگ را در این ولایت کشتند. https://tolonews.com/fa/afghanistan/%D8%A8%D8%A7%D8%B4%D9%86.

کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت. (1399). ربيس يا د ليوني سپي ناروغي. https://mail.gov.af/index.php/ps/node/4475.

Arora, B. M. (1991). Annual report National Zoological Park, New Delhi-3.

Barbon, A. R., Lopez, J., Jamriska, J., Thomasson, A., Braun, J., & Stidworthy, M. F. (2019). Clinical and pathological aspects of systemic Isospora infection in blue-crowned laughing thrushes (Garrulax courtoisi) at Jersey Zoo. Journal of avian medicine and surgery, 33(3), 265-277.

Cabello, J., Altet, L., Napolitano, C., Sastre, N., Hidalgo, E., Dávila, J. A., & Millan, J. (2013). Survey of infectious agents in the endangered Darwin's fox (Lycalopex fulvipes): high prevalence and diversity of hemotrophic mycoplasmas. Veterinary microbiology, 167(3-4), 448-454.

Daszak, P., Cunningham, A. A., & Hyatt, A. D. (2000). Emerging infectious diseases of wildlife--threats to biodiversity and human health. Science, 287(5452), 443-449.

Diepstraten, J., Sharma, M., Pasha, M. K. S., & Roy, S. (2022). Assessing Project Proposals Based on National and Global Tiger Action Plans: Lessons from the Integrated Tiger Habitat Conservation Programme (ITHCP). Land, 11(12), 2326.

Fisher, C. R., Streicker, D. G., & Schnell, M. J. (2018). The spread and evolution of rabies virus: conquering new frontiers. Nature Reviews Microbiology, 16(4), 241-255.

Government of Northwest Territories (GNT). (2017). A Field Guide to Common Wildlife Diseases and Parasites, Northwest Territories. My publisher.

Kitchener, A. C.; Breitenmoser-Würsten, C.; Eizirik, E.; Gentry, A.; Werdelin, L.; Wilting, A.; Yamaguchi, N.; Abramov, A. V.; Christiansen, P.; Driscoll, C.; Duckworth, J. W.; Johnson, W.; Luo, S.-J.; Meijaard, E.; O'Donoghue, P.; Sanderson, J.; Seymour, K.; Bruford, M.; Groves, C.; Hoffmann, M.; Nowell, K.; Timmons, Z. & Tobe, S. (2017). "A revised taxonomy of the Felidae: The final report of the Cat Classification Task Force of the IUCN Cat Specialist Group" (PDF). Cat News (Special Issue 11): 66–68.

Leung, A. K., Davies, H. D., & Hon, K. L. E. (2007). Rabies: epidemiology, pathogenesis, and prophylaxis. Advances in therapy, 24, 1340-1347.

Lewis, J. S., Logan, K. A., Alldredge, M. W., Carver, S., Bevins, S. N., Lappin, M., & Crooks, K. R. (2017). The effects of demographic, social, and environmental characteristics on pathogen prevalence in wild felids across a gradient of urbanization. PLoS One, 12(11), e0187035.

Miller, E. R., & Fowler, M. E. (Eds.). (2014). Fowler's Zoo and Wild Animal Medicine, Volume 8 (Vol. 8). Elsevier Health Sciences.

Mtui-Malamsha, N., Sallu, R., Mahiti, G. R., Mohamed, H., OleNeselle, M., Rubegwa, B., & Fasina, F. O. (2019). Ecological and epidemiological findings associated with zoonotic rabies outbreaks and control in Moshi, Tanzania, 2017–2018. International Journal of Environmental Research and Public Health, 16(16), 2816.

1Mukhopadhyay, S. K. (2020). Rabies in wildlife-a review in Indian context. APCRI Journal, 21(2), 13-17.

Mustafa, M., Ellzam, E. M., Sharifa, A. M., Rahman, M. S., Sien, M. M., & Nang, M. K. (2015). Rabies a zoonotic disease, transmission, prevention and treatment. J. Dent. Med. Sci, 14(10), 82-87.

OIE. (2010). Training manual on wildlife diseases and surveillance.

OCHA (UN Department of Humanitarian Affairs). (1997). Afghanistan Weekly Update No. 215. UN Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (Report).

Pandit, S. R. (1950). Two instances of proved rabies in the tiger. The Indian Medical Gazette, 85(10), 441.

Rao, K. P. (2011). Bio-Secure feed store At Kanpur Zoological Park.

Singh, R., Singh, K. P., Cherian, S., Saminathan, M., Kapoor, S., Manjunatha Reddy, G. B., & Dhama, K. (2017). Rabies–epidemiology, pathogenesis, public health concerns and advances in diagnosis and control: a comprehensive review. Veterinary Quarterly, 37(1), 212-251.

Sugiyama, M., & Ito, N. (2007). Control of rabies: epidemiology of rabies in Asia and development of new-generation vaccines for rabies. Comparative immunology, microbiology and infectious diseases, 30(5-6), 273-286.

Theodorides, J. (1986). Histoire de la rage: cave canem. Masson.

Thiry, E., Addie, D., Belák, S., Boucraut-Baralon, C., Egberink, H., Frymus, T., & Horzinek, M. C. (2009). H5N1 avian influenza in cats. ABCD guidelines on prevention and management. Journal of Feline Medicine & Surgery, 11(7), 615-618.

Thomson, G. R., & Meredith, C. D. (1993). Rabies in bat-eared foxes in South Africa. Onderstepoort Journal of Veterinary Research, 60, 399-399.

Two quarterly
Ainak Academic- Research Journal
Logar Higher Education Institute
Journal license date: June/2023

# Study of rabies disease in tigers

**Sabghatullah Danish**
Department of Para clinic, Veterinary Sciences Faculty, Shaikh Zayed University, Khost, Afghanistan.
Email: Sabghatullah.danish@yahoo.com

## ABSTRACT

**Introduction:** Rabies is a viral disease that infects humans and animals all over the world. The causative agent of this disease is transmitted from infected domestic and wild animals to humans directly by biting.
**Objectives:** Since rabies disease occurs in tigers, knowing the negative effects of this disease on the life of tigers, knowing the ways of transmission between animals and humans, control and prevention are our main goals.
**Method:** Library methods have been used in the writing of this research paper.
**Result:** The causative agent of rabies is an RNA virus, to which all warm-blooded animals are susceptible. The mentioned disease causes drooling, abnormal behavior, attacking mode and neurological symptoms in tigers.
**Conclusion:** Rabies is a fatal disease whose virus is present in many wild carnivores in addition to domesticated carnivores. How rabies cannot be treated; therefore, efforts must be focused on preventing the disease.

**Keywords:** Humans, Prevention, Rabies, Tigers, Treatment.

**Cite this article:** Danish, Sabghatullah. (2024). Study of rabies disease in tigers, Ainak Academic – Research Journal (Two Quarterly). 1(2): 79-92.
Logar Higher Education Institut
© The Author(s).